اسدالله پیام

ډنمارک /۲۰۱۱-۰۹-۲۷

**د شهادت دپنځلسم تلین په مناسبت**

# نجیب الله ته د رښتیني درناوي ترټولو غوره بېلګه

نجیب الله د هېواد دمعاصرسیاسي تاریخ هغه وتلی ځلانده ستوری دی چه دهغه د سوچ،ژوند او شهادت هر اړخیز څېړل او راسپړل ،په افغاني لوی چاپېریال کښي دیوې ملي سپېڅلې دندې په توګه هر سترګور،خواخوږي اووطنپال افغان ته بالفعل مطرح ده.دهغه دزعامت او شهادت سره ډیرې داسې ژمنتیاوي تړلې دي چه اړوند نړیوال اړخونه او دافغانستان راتلونکي واقعا ملی دولتونه هم پکښې ښکېل دي.ځکه ډاکتر نجیب الله نه دخپل ځان،نه دخپل ګوند ،نه دکوم ځانګړي ټبر او نه هم دیوه لاسپوڅي په توګه دکوم ځانګړي هېواد دولکې دتپلوقرباني دی بلکه دتاریخي او مډرن افغانستان د ستراتیژیکو حیاتي ګټو دلارې لاروی او شهید دی.خو زما په آند دهمداسې یوې څېړنې اوراسپړنې په وړاندې لاهم ډېر تیا اوموانع شته او ښایې چه دراخوټېدونکي مناسبې او مساعدې موکې تر رارسېدو انتظار اوحوصله وشي.

دوطن ګوند د غړو غوڅ ډېرکی پر دې ویاړي چه همداسي یو ستر انسان اولوی افغان ددوی دګوند مشروو او همدا اوس اوس هم دهغه له فکري اوسیاسي مېراث سره تړاو لري. دهمدغه پیوند او تړاو له مخې او دخپلې ملي ژمنتیا پر بنسټ دوی پردې ټولو تېرو پنځلسو کلونو کښې هڅه کړېده چه دخورو ورو سازمانونو،محافلو،خپرونو او رسنیوله لیارې دهمدې فکري – سیاسي میراث او همدارنګه دخپلې ملي ژمنتیا د تحقق او پلي کېدوداسې لارې او لورې وآزمایي ،چه دزمان او مکان دایجاباتو و څرنګوالي ته په پاملرنه هم ورته اړین او هم مثبت بربښېدل.دا چه دې هلو ځلو عملا څه مثبتې یا منفي پایلې درلودې په همدې لیکنه کښي یی دبشپړ سپړلو اړتیا اوګټورتوب نه وینم خوټولې هغه هڅې چه په همدې لار کښي دصداقت او ښه نیت له مخې شویدي ددرناوي اوتقدیر وړ بولم.

اما !!!

له وطن او نجیب الله سره دملګرتیا او ژمنو ساتل او پالل تر هغه مېچ او کچې ډیر لوړدی چه موږ د وطن ګوند غړو پدې وروستیو دوو لسیزو کښې دخپل فکري او سازماني کار او هڅانې لپاره په نظر کښې

نیولي دي. دهیواد هغه لویې ستونځې او اساسي سوالونه، چه بنسټیز حل یې نجیب الله په بېساري زړورتوب،هوډمني اودرایت پیل کړ،له بده مرغه نه یوازې داچه په خپل حال پاتې او مطرح دي بلکه دجهادي –طالبي کرغېړنې ولکې او داوسنۍ مافیایې –جهادي تپل شوې فاسدې ادارې دمنفي اغېزو تر فشار لاندې نوي،ژور اوخطرناک ابعاد غوره کړیدي . پر دې برسېره همدا اوس اوس په نوې پېړۍ کښې دافغانستان دستراتېژیک برخلیک دټاکنې او تثبیت په موخه ډېر بنسټیز نوي او لوی حل غوښتونکي سوالونه مطرح دي . نو که موږ د فکري تړاو او هوډمنې ملګرتیا او ژمنتیا تیرې په ټټر وهو ،دغو ټولو مطرحو سوالونو ته باید او باید دحل افغان لمنې اوجامع عملي ځوابونه وړاندي کړو .زموږ ګوند په رښتینې توګه د افغاني مدني ټولنې دموډل مبتکر اوطراح دی چه دټول لمنو ګوندونو ډاګیز مشارکت دهغې شمزییز اصل دی . خو که زموږد ګوند غړي دخورو ورو انترنیتي کورکیوپه چوړولو اوړنګولو بوخت وي نو له نورو پروژه‌یي ګوندونو څخه څنګه ددې تمه لرلای شي چه دمدني ټولنې پوخ بنسټ دی کښېږدي. که دوطن ګوند دهېواد دبیا رغونې لپاره د متخصصو کادرونو دلوړې کچې ظرفیت په ځان کښې ولري او دا ظرفیتونه دډول ډول پلمو تر پوښ لاندي دهېواد څخه بهر او دهېواد په دننه کښې یوازې په وعظ اوپدرانه نصېحتونو ځان اوټولنه وغولوي او دولس دستونځو په حل کښې بالفعل مشارکت ونه کړي نو بیا له بهرنیانو څخه څنګه تمه کولای شو چه زموږ هېواد دی ورغوي ،زموږ په کورنیو چارو کښي دی لاس وهنه هم نکوي اودافغانستان ملي واکمني دي هم همدوی راته خوندي کړي.

دغه او په لسهاوو نور لاینحله سوالونه زموږ په وړاندي پراته دي چه له نورو ولسواکه او وطنپالو ځواکونو سره اوږه په اوږه دهغوی دعملي ځواب دموندلو رسالت او مسؤلیت لرو . زما په آند دقیقا ددې وخت رارسیدلی دی چه داوسنیو ځانکړیو سازماني کورکیو پرځای دیوموټي ،ځواکمن، دموکراتیک بنسټه اوقانون واکه وطن ګوند دبیا حضور د سپېڅلي اوویاړمن ملي آړ وتحقق ته هوډمنه ملاوتړو اوددوو تیرو لسیزو تېروتنې اووختوژنې په ګډه تلافي کړو.همدغه دوطن ددین داداکولویوه اغېزمنه اوبې بدیله وسیله ده،همدغه دیون اوغوټون لاره،همدغه دبري کنجۍ اوهمدغه ډاکتر نجیب الله ته دربنتوني درناوی خورا غوره بېلګه ده.

دوطن ګوند د قانوني مجدد حضور یوازې او یوازې دهغې (عمومي مجمع –عالي مجمع –کنګرې ) د

تدویر له لارې شوونی دی چه دوطن ګوند دټولومتشکلو اوغیر متشکلو غړو دموکراتیک مشارکت تامین اوتمثیل کړي (دوطن ګوند پخواني غړي، یعني هغوی چه وطن ګوند پرېیښی اودبېرته راتلونیت نلري اویا هغوی چه داحزابو دقانون د احکامولە مخې دګوند دغړیتوب جواز نلري،له دې ا مر څخه مثتثنی دي). پر دې مشارکت کښې د وطن په کوند پورې تړلی هیڅ سازمان

،تشکل، کړی، محفل او منفرد غړی محور او مقام ندی او هیڅ یو یې مشتثنی کېدلای نشي یو ائی ټول لمنی منسجم دموکراتیک ګډون د کنګرې کیفیت، لوړظرفیت ، مشروعیت او اغېزمنتوب تضمینولای شي.

پدې ورستیو کښې د ګډ مشارکت په لور مثبت خوځښت پیل شویدی او هیله ده چه له وخت وژنې او ځان غوښتنې پرته په معقوله او سنجول شوې بېړه بشپړ شي. یو له دغو مثبتو اقداماتو څخه دهېواد په دننه او اروپا کښې دوطن ګوند دعالي مجمع د تدارک او تدویر د ګډ کمیسیون دتاسیس پیلامه ده چه له له بېړنې پراخیدو اوپخیدو وروسته کولای شي دوطن ګوند دمتشکلو او غیر متشکلو غړو هلې ځلې او چوړښتونه سره یوموټی ،دافغانستان داوسنیو او نژدې راتلونکې واقعیتونو سره دیوې همخوانې مرامنامې او اساسنامې طرحه تیاره او دکنګرې تر دروازو پوری دوطن ګوند د غړو منتخب استازې ورسوي. خوزما دملګرتیا مکرر تاءکید به پر دې وي چه:

- کمیسیون په بېړنۍ توګه ټول لمنی او ځواکمن شي.
- د کمیسیون ټول غړي دوطن ګوند په مورچل کښې تر پایه ودرېږي.
- دهیواد په دننه او بهر کښې دکمیسیون غړی دیوه واحد وجود په څېرعمل وکړي.
- په پروسه کښې شریک ټول متشکل او غیرمتشکل غړي کمیسیون ته دګډ او یوائني لارښود ارګان په سترګه وګوري، ملا یې وتړي اود موازی اومشابه جوړښتونو له جوړولو اوساتلو کلکه ډډه وکړي.

په پای کښې تا سو هر یوه دوطن غړي ته په درناوي مراجعه کوم او وایم چه راځئ د وطن له ستر شهید ډاکتر نجیب الله او دافغان ویر ځپلي ولس سره په عمل کښې او په ګډه تجدید پیمان وکړو او خپلې ورکړې ملي ژمنې تر سره کړو. نور دتشو خبرو انتظار او ترصد وخت تېر شویدی.

**که دار وي که زندان وي که شرنګا دزولنو**

**موږ به دوطن دسرلوړي سندرې بولو**